كله چې په تاسو کې چا اودس وکړ او موزې يې واغوستې نو لمونځ دې په کې وکړي، او مسح دې پرې وکړي، او که خوښه يې وه نو بيا دى يې پرته له جنابته نه باسي

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «كله چې په تاسو کې چا اودس وکړ او موزې يې واغوستې نو لمونځ دې په کې وکړي، او مسح دې پرې وکړي، او که خوښه يې وه نو بيا دى يې پرته له جنابته نه باسي».

[صحيح دى] [الدار قطني روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې مسلمان كله له اودس نه وروسته موزې په پښو کړي او بيا يې اودس مات شي او غواړي چې اودس وکړي، نو كه وغواړي كولاى شي مسح پرې وکړي او لمونځ پکې وکړي او د يوې معلومې نيټې پورې به يې نه لرې کوي، خو كه چېرته جنب شو بيا پرې د موزو وېستل او غسل کول لازم دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8392